## بربنده

سپین مخ دی په پلو  کله پټ کله بربنده
په وړاندي مي دسترګو  راته مه جوړوه خنده
انډول مي د میني تا سره  نه اندازه  کیږي
چي ودی نه وینم هغه ورځ مي وي بی خونده
دسترګو په اشارو سره رغبت می تاته  وښود
د نا ز په تغا فل سره  پرما  دي کړ  ملنده
ما ستا نوم  د خپل زړه په دړه کي حک کړي
هیڅ وخت  «مل» نه اچوي  ستا مینه په څنده

کریفلد جرمنی  2020-05-09

*****

## په غمزو

پنډی یی لاندی باندي  خوځول په کرشمو
پرهیز یی  ځما  ما ت کړ  د سترګو په غمزو
په شګو  د ساحل په  غاړه پروت وه  بربنده
شین  سترګي  طلایی  زلفی  دلکش  د ښاپیرو
وربل یی لنده کړي شوندي سری دلعل په رنګ
ځما  سترګي  چي  هیڅ نه مړیدل  په ډیر لیدوو
د میني  راز اونیا ز یی وریده  له تور  چشما نو
دناز په تغافل کی «مل» هغه  وه په  موسکید و

کریفلد جرمنی 2020-05-12

*******

## دميني طغيان

د میني  په طغیان کی  شرم  وننګ  له مینځه ځي
د یا ر  په  بیلتون کی  سترګي   اوښکي تویوی
په  نا ز  نیمرخ  کتل د  مین په زړه اور بلول وي

*د اوښکي فواری مین له سترګو لیږدوی*
*د ګل دهر اغزی محنت ګل باز په مینه کاږي*
*هر ناز او نزاکت د خپل جانان مین مني*
*مل هیڅوخت په دیداردخپل صنم موړشوی نه دي*
*خدا یی دسرو شونډو ما «مل» عشق ته یی هڅوي*

****

*کریفلد جرمنی 2020-05-12*